# دوطن ګوند اروپایی شورا په ناستی کی :

دوطن کوند اروپایی شورا خپلی ورستی ناسته کی چی دښاغلی عبدالمبین مبین په مشرتابه تر سره شوه دنورو مسایلو تر څنګ ددی شورا درئیس ښاغلی عبدالمبین مبین ګزارش واورید . په دی ګزارش ګی جلسی ته دیوشمیر سیاسی ګوندونو ، ټولنیزو نهادونو او ملی شخصیتونو ګډی غوندی په اړوند چی ددنمارک هیواد د سونه بورګ ښار کی د اپریل میاشتی په پنځه ویشتمی نیټی جوړه شوی وه معلومات ورکړ . په یادی غونډی کی ښاغلی مبین دوطن ګوند په استازیتوب ګډون ، او دسیاسی ګوندونو او ټولنیزو سازمانونو او شخصیتونو دګډو هڅو په باب د وطن ګوند دتګلاری وضاحت وکړچی جلسه خپل پوره ملاتړتری اعلانوی جلسی پریکړه وکړه چی دیادو خبروجریان ګوندی رهبری سره مطرح او لازم هدایتونه تر لاسه کړی . جلسی د ملګرتوب په فضای خپل کار پای ته ورسو .